## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبرنامه

**22 سنبله _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د شینوارو قومي مشرانو سره ولیدل ---------------------------------------------1
بیش از دو هزار نفر مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند-----------------------------------------------------1
بغلان کې د بېځایه شوو د حقوقو په اړه د عامه پوهاوي برنامه ترسره شوه-----------------------------------------2
توزیع کمک نقدی به صد ها خانواده در ولایت بلخ آغازشد------------------------------------------------------3
ننګرهار کې لسګونه راستنېدونکو اوډیپورت شوو سره د روغتیایي کڅوړو مرستې وشوې -------------------------4
کانال مانش: طی سه روز بیش از ۹۵۰ مهاجر وارد بریتانیا شدند ---------------------------------------------5
پولند بلاروس را متهم به تیراندازی به سوی مهاجران می‌کند---------------------------------------------------7
لاتویا د سپیني روسیې سره سرحد باندې د مهاجرو ریکارډ شمېر ثبت کړی--------------------------------------8
آلماني ښارونه وایي د مهاجرو لپاره ځای موندل زښت مشکل شوي دي ------------------------------------------10
په مدیترانه کې ۴۰ مهاجر ژغورل شوي -------------------------------------------------------------------11


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د شینوارو قومي مشرانو سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د ننګرهار ولایت د شینوارو قوم له مشرانو او مخورو سره په خپل کاري دفتر کې ناسته وکړه

یادو مشرانو د شینوارو ستونزې او مشکلات له حقاني صیب سره شریک کړل، دوی وویل شینوارو قوم هر وخت د اسلامي امارت ملاتړ کړی او خپل دغه هوډ ته به ترپایه ادامه ورکوي دوی همدا راز له ښاغلي حقاني مننه وکړه، چې هر وخت یې پرته له ځنډه د قومونو غوښتنو ته لبیک ویلی

د مهاجرینو چارو وزیر وویل، داسې نظام راغلی، چې هرڅوک هروخت خپل مشکلات تر مشرانو رسولی شي، دا د اتفاق او یووالي لپاره ترټولو غوره فرصت دی، زمونږ هڅې باید د یو قوم په کچه نه بلکې د ټولو قومونو لپاره وي ښاغلي حقاني د اشغال پرضد د ننګرهار د قومونو قربانۍ وستایلې او ډاډ یې ورکړ، چې ددوی ستونزې به له اړوندو ارګانونو سره شریکې او د حل لپاره به یې لازم اقدامات ترسره کړي

## بیش از دو هزار نفر مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**دو هزار و 536  نفر افغان مهاجر به تاریخ 20 سنبله از ایران به وطن برگشته اند.**

**به گفته آمر سرحدی اسلام قلعه، از جمله افراد مذکور که شامل خانواده ها و مجردین بودند ،1363 نفرآنها نیازمند وآسیب پذیر تشخیص و غرض اخذ کمک، به دفترسازمان بین المللی مهاجرت معرفی و مواد غذایی و غیر غذایی  را بدست آوردند.**

## بغلان کې د ښځایه شوو د حقوقو په اړه د عامه پوهاوي برنامه ترسره شوه

د وزارت ویب سایت



د افغان پراختیایي موسسې له لوري د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکاریٰ په دغه ولایت کې بېځایه شوو ته د انساني حقوقو په اړه د عامه پوهاوي برنامه د وړي په ۲۰مه ترسره شوه.

یاده برنامه د مرکزي بغلان ولسوالیٰ د سولې د مهاجرینو او پلخمري ښار د مهاجرینو د اتحاد ښارګوټو کې ترسره شوه، چې پکې یو شمېرعلماوو، مخورو او بېځایه شوو شتون درلود.

د برنامې په جریان کې د انساني حقونو، د شخړو پرحل، د مهاجرینو د حقوقو، راستنېدنکو او د اخلي بېځایه شوو او د بیا مېشتېدو په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې شول

## توزیع کمک نقدی به صد ها خانواده در ولایت بلخ آغازشد

ویب سایت وزارت




**ریاست مهاجرین ولایت بلخ  از آغاز توزیع کمک نقدی برای 500 خانواده با همکاری انجمن مهاجرین ناروی به تاریخ 20 سنبله خبرداد.**

**خانواده های مذکور در ولسوالی دولت آباد آن ولایت قبلا ازطرف اداره مهاجرین و نهاد مذکور سروی و شناسایی شده بودند.**

**کمک یاد شده در دو کتگوری  مبالغ (7 هزار و500 ، 2 هزار و 100) افغانی به هریک از خانواده های بیجاشده توزیع می شود.**

## ننګرهار کې لسګونه راستنېدونکو اوبېپورت شوو سره د روغتیايي کڅوړو مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرت نړۍ وال سازمان له لوري د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ ۶۹ راستنېدونکو او ډیپورت شوو سره د وړي په ۲۰مه د روغتیایي کڅوړو مرستې وشوې.**

**په یادو مرستو کې یوه یوه روغتیایي کڅوړه، چې ۱۰ قلمه مواد پکې شامل وو هرې کورنۍ ته ووېشل شوه.**

**د ویلو ده، چې یادو کسانو سره مخکې هم نغدي مرستې تر سره شوې وې**

## کانال مانش: طی سه روز بیش از ۹۵۰ مهاجر وارد بریتانیا شدند

مهاجرنیوز



وزارت داخله بریتانیا می گوید که در سه روز گذشته بیش از ۹۵۰ مهاجر از طریق کانال مانش به سواحل این کشور رسیده‌اند. از سوی دیگر مقامات فرانسوی از نجات ۱۵۳ مهاجر در آب های ساحلی فرانسه خبر داده‌اند.

آخرین آمار منتشر شده از سوی وزارت داخله بریتانیا نشان می دهد که روز دوشنبه ۱۴۴ مهاجر با ۳ قایق از کانال مانش عبور کردند و ۳۸۰ مهاجر نیز با ۷ قایق روز یکشنبه به سواحل بریتانیا رسیدند. این وزارتخانه می افزاید که ۴۲۵ نفر دیگر نیز روز شنبه از این مسیر دریایی وارد بریتانیا شده‌اند

در همین زمینه :ریکارد عبور از کانال مانش: نزدیک به ۹۰۰ مهاجر وارد بریتانیا شدند

به این ترتیب تعداد مهاجران وارد شده به بریتانیا در سال جاری به ۲۳۲۴۷ هزار نفر رسیده است. این در حالی است که از جنوری تا پایان اگست سال گذشته، ۲۵۰۴۳ مهاجر از طریق کانال مانش وارد بریتانیا شدند.

از سوی دیگر، فرماندهی مانش و دریای شمال فرانسه در صفحه ایکس خود نوشته است که نیروهای ساحلی یکشنبه گذشته ۱۵۳ مهاجر را از آب‌های ساحلی کاله نجات داده‌اند.

در بیانیه مطبوعاتی آمده است که امدادگران یک قایق مهاجران را در آب‌های ساحلی باراک با ۸۱ سرنشین نجات دادند. بعد از ظهر همان روز، یک گروه ۷۲ نفری از مهاجران شامل ۱۷ کودک و ۱۴ زن در آب‌های ساحلی گراولین نجات یافتند.

استفاده از هواپیماهای بدون سرنشین برای کنترول سواحل مانش

چند روز پیش فرماندهی منطقه شمال فرانسه با صدور فرمانی اعلام کرد که طی سه ماه آینده برای جلوگیری از ورود مهاجران به بریتانیا، از هواپیماهای بدون سرنشین و بالگردهای مجهز برای کنترول سواحل استفاده خواهند کرد.

**در این فرمان آمده است که نیروهای امنیتی اجازه دارند با کمک این تجهیزات برخی مناطق را تا ۵ کیلومتری سواحل دانکرک و باراک را پوشش دهند.**

**در همین زمینه :مهاجران: کنترول سواحل کانال مانش توسط درون‌های فرانسوی**

**مقامات افزودند که این تصمیم به منظور «مبارزه با قاچاق انسان، کنترل مرزها و نجات مردم» اتخاذ شده است.**

**ریشی سوناک، نخست وزیر بریتانیا، مبارزه با مهاجرت غیرقانونی را اولویت خود اعلام کرده است. او چند هفته پیش گفت که به مبارزه خود با قاچاقبران ادامه می‌دهد و تمام تلاش خود را می‌کند تا از سفرهای «غیرقانونی» از کانال مانش جلوگیری کند.**

## پولند بلاروس را متهم به تیراندازی به سوی مهاجران می‌کند

مهاجرنیوز



**نگهبانان مرزی بلاروس روز دوشنبه، سربازان پولندی را متهم کردند که برای بیرون کردن مهاجران از این کشور به سوی آن‌ها تیراندازی می‌کنند. بعد از مدت‌ها، تنش‌ها میان هردو کشور بر سر مهاجران دوباره تشدید یافته است.**

**مینسک روز دوشنبه (۱۱سپتامبر) نیروهای امنیتی پولند را متهم کرد که برای بیرون راندن مهاجران از قلمرو خود به آنها تیراندازی کرده‌اند. نیروهای مرزی بلاروس در شبکه تلگرام نوشته‌اند که در گذشته چندین بار نیروهای امنیتی پولند تعدادی از مهاجران را از طریق گذرگاهی که مخصوص حیوانات است به بلاروس فرستاده‌اند.**

**آنان گفته‌اند که نیروهای مرزی پولند برای ترساندن پناهجویان تیراندازی هوایی کرده‌اند و این اقدام ممکن است منجر به درگیری‌های مرزی شود.**

**در همین زمینه :<u>وضعیت فوق العاده در مرز میان لتونی و بلاروس دوباره تمدید شد</u>**

**تشدید کنترول در مرزها**

**از تابستان ۲۰۲۱ به این سو، روابط بین مینسک و ارسا تیره شده است. در دو سال گذشته، هزاران مهاجرکه بیشتر آنها اتباع خاورمیانه هستند، تلاش کرده‌اند از بلاروس خود را به پولند برسانند. پولند بلاروس را متهم می‌کند که با تشویق مهاجران به عبور از مرز، می‌خواهد اتحادیه اروپا را تحت فشار قرار دهد.**

**در همین زمینه :<u>ورود پناهجویان از طریق بلاروس به اتحادیه اروپا افزایش یافته است</u>**

**دولت پولند برای جلوگیری از ورود مهاجران موانعی در مرز با بلاروس ایجاد کرده است. مقامات این کشور همچنین قانونی را تصویب کرده‌اند که بر اساس آن نیروهای امنیتی اجازه دارند مهاجران را از این کشور بیرون کنند.**

**ماریوس بلاژاک، وزیر دفاع پولند در ماه آگست اعلام کرد که ۱۰ هزار سرباز جدید را به مرز بلاروس اعزام می‌کند. وی پیش از این نسبت به تحرکات بلاروس و حضور گروه واگنر در این کشور هشدار داده بود.**

**در همین زمینه :<u>پولند ده هزار سرباز را به مرزهای بلاروس اعزام می‌کند</u>**

**حداقل ۲۸ مهاجر در مرز کشته شده‌اند**

**به گفته نگهبانان مرزی پولند، از ابتدای سال تاکنون ۱۹ هزار نفر از بلاروس وارد پولند شده‌اند. این رقم نسبت به تمام سال گذشته افزایش را نشان می‌دهد. آنها می‌گویند که تنها در ماه جولای ۴۰۰۰ مهاجر از بلاروس وارد پولند شده‌اند.**

**نهادهای حقوق بشری نسبت به افزایش خشونت علیه مهاجران در مرز بین دو کشور هشدار می‌دهند. سازمان Grupa Granica در ماه اگست در فیس بوک خود نوشت که تعداد زیادی از مهاجران از رفتار خشونت آمیز نیروهای پولندی شکایت کرده‌اند. شاهدان عینی به این سازمان گفته‌اند که مرزبانان کفش‌ها، غذا و آب آنها را گرفته و موبایل و سایر وسایل آنها را تخریب می‌کنند.**

**بر اساس گزارش گروه گرانیکا، در دو سال گذشته حداقل ۲۸ مهاجر در مرز پولند و بلاروس جان خود را از دست داده اند. الکساندرا لوبودا، یکی از اعضای این سازمان، در ماه ژانویه به مهاجر نیوز گفت که تعداد قربانیان ممکن است حتی بیشتر باشد. وی افزود که نزدیک به ۲۰۰ نفر در این منطقه ناپدید شده‌اند.**

**بیشتر بخوانید :<u>اجساد پیدا شده در جنگل: سازمان ها از ناپدید شدن مهاجران در مرز لیتوانیا و بلاروس ابراز نگرانی می‌کنند</u>**

## لاتویا د سپېنې روسيې سره سرحد باندې د مهاجرو ريکارډ شمېر ثبت کړی

مهاجرنیوز



**لاتویا وایي چې په تیرو ورځو کې یې د سپینې روسیې سره پر سرحد په ریکارډ شمېر زیات مهاجر ثبت کړي دي. ویل شوي چې دغه مهاجرو هڅه کړې لاتویا ته واوړي.**

**د لاتویا د سرحد ساتونکو په وینا په تیرو درو ورځو کې یې ۴۷۲ داسي موارد ثبت کړي دې چې په ترڅ کې یې مهاجرو هڅه کړې چې د اروپایي اتحادیې باندنۍ پولې ته داخل شي. زیاته شوې چې صرف د یکشنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ کال د سپمتبر لسمه نېټه) ۲۴۶ هڅې شوي چې مخه یې نیول شوې ده.**

**په وینا یې پر دغه سرحد په ۲۴ ساعته کې هیڅکله په دومره زیات شمېر د اوښتلو هڅې نه وې ثبت شوي. په دې توګه نو په روان کال د اروپایي اتحادیې پولو ته د داخلېدنو د هڅو شمېر ۷۸۰۰ ته جګ شوی دی. مخکې کال پر دغه پوله د اوښتلو د هڅو شمېر ۵۳۰۰ و. لاتویا چې د ناټو او د اروپایي اتحادیې غړیتوب لري، یاد معلومات یې د دوشنبې په ورځ په پلازمېنه ریګا کې ورکړل.**

**لیتوانیا ویلي دي چې خپل بالټیک ګاونډي هیواد لاتویا ته به د پولې د ساتنې په مقصد ۲۰ سرحد ساتونکي چارواکي د مرستې لپاره ولېږي. دا څرګندونې مرستیال داخله وزیر، آرنولداس ابراماویسیوس د دوشنبې په ورځ وکړې. د لاتویا په پرتله په لیتوانیا کې په تیرو وختونو کې تر سرحد د اوښتلو هڅې کمې شوي دي. ویل شوي چې د ناقانونه سرحد اوښتنې د هڅو د یاد کمښت لامل هغه کټاره ده چې لتوانیا د بېلاروس سره پر سرحد لګولې ده. په لاتویا کې هم پر سرحد د دایمي کټارې د درولو کارونه ادامه لري .**

**لاتویا، لتوانیا او پولنډ پر سپینې روسیې یا بېلاروس تور لګوي چې په سازماندهي توګه مهاجر د اروپايي اتحادیې دغو باندنیو پولو ته رهنمايي کوي. خو سپینه روسیه دغه تورونه ردوي .**

## آلماني ښاروالې وايي د مهاجرو لپاره ځای موندل زښت مشکل شوي دي

مهاجرنیوز




**په آلمان کې زیات شمېر ښاروالې وايي چې د مهاجرو د زیات شمېر له کبله ورته ډېره مشکله شوې ده چې ورته په کافي اندازه د سرپناه ځایونه برابر کړي.**

**زیات ښاروالې او ښارګوټي وايي چې مخ په زیاتېدونکې توګه د مهاجرو لپاره د سرپناو د کمښت له ستونزې سره مخامخ دي. د آلمان د ښاروالو د اتحادیې مشر، ګېرد لاندسبېرګ غوښتنه کړېده چې له همدې کبله باید د مغرب هیوادونو نومونه دې د خوندي هیوادونو په لیست کې شامل کړل شي .**

**په آلمان کې د خوندي هیوادونو په لیست کې هغه هیوادونه راځي چې ورته د مهاجر اخراج آسانه وي ولې چې هلته ورته د جدي ګواښ اندېښنه نه وي. د آلمان لیبرال ګوند هم د دغې غوښتنې ملاتړ کوي چې د مغرب هیوادونه دې د خوندي هیوادونو په لیست کې شامل کړل شي، ځکه چې له دغو هیوادونو څخه اوس هم زیات شمېر مهاجر آلمان ته رارسیږي. خو زرغون او کیڼ ګوند د دغې غوښتنې مخالفت کوي.**

**د ښاروالو د اتحادیې رئیس، ګېرد لاندسبېرګ و »اوسنابریوکر څایتونګ» ورځپاڼې ته د اونۍ په آخره کې ویلي دي چې زیات شمېر آلماني ښاروالې «د مهاجرو لپاره د سرپناوو برابرولو، د هغوی د مراقبت او ادغام لپاره» د خپلو امکاناتو هغه وروستۍ پولې ته رسېدلي دي. په وینا یې دغه وضعیت په دغو سیمو کې د غوسې لامل ګرځي. هغه ویلي چې نه یوازې**

د سرپناو ستونزه ده بلکه په ورکتونونو او ښوونځیو کې هم په کافي اندازه ځای نشته .لاندسبېرګ ویلي دي چې په دغو سیمو کې د امکاناتو د کمښت له کبله چمتو والی کم شوی چې نوي مهاجر ومني.

لاندسبېرګ غوښتنه کړې ده چې د خوندي هیوادونو په لیسټ کې د نورو هیوادونو د ورزیاتولو تر څنګ باید د اروپايي اتحادیې پر سرحد هم وکتل شي چې کوم راتلونکي مهاجر د پاته کېدو چانس لري .په وینا یې دا چې د تونس او مراکش په شان مغرب د هیوادونو د مهاجرو د قبولی چانسونه زښت کم وي، نو دې دغه په خوندي هیوادونو کې حساب کړل شي.

## په مدیترانه کې ۴۰ مهاجر ژغورل شوې

دویچه وله




په مدیترانې سمندرګي کې له یوې کښتۍ څخه ۴۰ کسان ژغورل شوي دي. د عیني شاهدانو په حواله ۴۰ تنه نور مهاجر لادرکه دي .

د هامبورګ د «ریسک شیپ» تولنې د »نادیر» په نوم د ژغورنې کښتۍ په مدیترانې سمندرګی کې څلویښت انسانان ژغورلي دي. د سې شنبې په ورځ د دغه ټولنې له خوا ویل شوي چې دا مهاجر د تونس ساحل ته څېرمه په یوه کښتۍ کې موندل شوي چې تر حده زیات کسان پکې سپاره ول .

زیاته شوې چې ژغورل شوي د دوشنبې په سهار په خوندي توګه لمپېدوزا ټاپو ته انتقال شوي دي. خو زیاته شوې چې د عیني شاهدانو په حواله ۴۰ نور مهاجر لادرکه دي .



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**د مدیترانې سمندرګي لاره په نړۍ کې د غیر قانوني مهاجرت په تر ټولو خطرناکو لارو کې شمېرل کېږي. د مهاجرت د نړیوال سازمان (IOM) په حواله د روان میلادي کال له پیل راهیسې تر ۲۳۰۰ ډېرو کسانو پر دې لاره خپل ژوند له لاسه ورکړی او یا لادرکه دي**

خبرنامه